ليکوال او شناند: نظرمحمد مطمئن

۱۳ می ۲۰۲۰

## د بنديانو د تبادلې او خلاصون پېچلې قضيه

په دوبۍ کې د بهرنيانو له غونډې"۱۷ جنوري ۲۰۲۰" يوه ورځ وروسته، لوړ پوړي بهرني ډيپلوماټ راته وويل: "جان باس له ډاکتر غني سره ښې اړيکې نه درلودلې، د امريکا نوی سفير چې راځي، دا هم ډېره زياته تجربه لري، په ترکيه او نورو هيوادونو کې د امريکا سفير پاتې شوي، کيدای شي له ډاکټر غني سره خپلې اړيکې ورغوي، او دا هم ممکن ده چې د امنيت شورا له مشر ډاکټر محب سره ووينې، که دا کار يې وکړ، نو بيا کيدای شي چې ډاکټر غني په واک کې پاتې شي". همداسې وشول.

په دوحه کې د متحده ايالاتو – امريکا د تړون د لاسليک مراسم چې لا نه و پيل شوي، يوه مهم بهرني راته وويل:" آيا طالبان به ومني چې ټول ۵ زره بنديان يې خوشي نه شي او بين الافغاني خبرې پيل کړي، ځکه د مارچ تر ۱۰مې د دومره زياتو بنديانو خوشي کول به ستونزمن وي."

د مارچ پر ۲مه، د يوې مشهورې نړېوالې اداري مشر په دوحه کې راته وويل: "د طالبانو او حکومت ترمنځ د بنديانو د تبادلې بهير به پېچلی وي، که طالبان ومني موږ يې په دې برخه کې منځګړتوب وکړو."

ښکاري چې د بنديانو په ځنډ خلاصون د امريکا- افغان حکومت د مخکيني پلان له مخې دی.

ډيری افغان سياستوال له امريکا غواړي چې د ۵ زره طالب بنديانو تر بشپړ ور خلاصيدو مخکې بين الافغاني خبرې پيل شي.

د افغان حکومت د ملي امنيت شورا وايي چې د طالب بنديانو د خلاصون واک له موږ سره دی. د انس حقاني د تبادلې پر مهال امريکايانو انتهايي هڅه وکړه چې وښيي چې د حقاني، حاجي مالي خان او حافظ عبدالرشيد د خلاصون واک له افغان حکومت سره دی، مګر امريکا بالاخره له طالبانو سره مخامخ د تبادلې معامله وکړه.

افغان حکومت د ۵۰۰۰ بنديانو د بشپړ خلاصون لپاره اورېند غواړي، طالبانو دوه کاله وړاندې د کوچني اختر درې ورځې رسمي اوربند اعلان کړ، تير کال يې هم د اخترونو په ورځو کې درې ورځې نا اعلان شوی اوربند وکړ، همدا يوه حل لاره کيدای شي، چې د کوچني اختر درې ورځې اعلان شوي يا نا اعلان شوي اوربند باندې د ښکېلو لورو ترمنځ توافق؛ او دواړو لورو رينګه تر سره شي، او يا داچې د يوې اونۍ لپاره د جګړې کېمدو باندې دواړه لوری موافقه وکړي، لکه د امريکا- طالبانو ترمنځ چې وشو، تر څو ۵۰۰۰ طالب بنديان او ۱۰۰۰ دولتي بنديان په بشپړ ډول خلاص او بين الافغاني مذاکرات پيل شي.

که امریکایان د بین الافغاني مذاکراتو په مقدماتي پړاونو کې له منځه ایستل کیږي، هم ستونزه ده، که نه ایستل کیږي، هم فریب او چل کوي، مثلاً، بالفرض، که افغان حکومت غوښتلي وای چې د امریکا له خوښې پرته د انس حقاني تبادله د دوی له لسو امنیتي ځواکونو سره وشي، آیا امریکایانو به منلي وای؟ دا تبادله شوني وه؟

بالفرض، که افغان حکومت د خپلو ۱۰۰۰ بندیانو د تبادلې لپاره د طالبانو د ۵۰۰۰ بندیانو خوشې کېدل، پرته د امریکا له خوښې منلي وای، آیا امریکایانو به دې کار ته اجازه ورکړې وای؟

اوس چې امریکایانو دا معامله له طالبانو سره منلې، مګر بیا وایي چې د حکومت لخوا ستونزې دي، دلته د امریکا چل او فریب دی، که داسې وای، ولې یې بیا له طالبانو سره ژمنه کوله.

بله مهمه مسئله داده چې د بندیانو لګښتونه څوک ورکوي؟ د باګرام زندان کنټرول او نظارت له چا سره دی؟

حزب اسلامي له افغان دولت سره د سولې تړون وکړ، او د پخواني پرچم ډلې حنیف اتمر رول پکې جوت و، که امریکا لا هم فکر کوي چې طالبان به د پخواني خلقي ډلې د غړي معصوم ستانکزي په مشرۍ په حکومت کې مدغم او یا حکومت ور ګډ شي، دا لاره ډېره اوږده او بې پایلې ښکاري.

بل خوا بیا د "شورای عالي مصالحه" تر نوم جوړښت په کار اچول شوی، چې د مذاکراتي پلاوي واکونه ننګوي، او که مشرې یې ډاکټر عبدالله کوي، ممکن څو ورځې وروسته هغه خپله د نیم حکومت له ادرسه را څرګند، او ځینې سیاسي ګوندونه به د مصالحې د عالي شورا لپاره د هغه مشرتوب ونه مني.

او که چیرته ډاکټر عبدالله ته ۵۰ سلنه وزارتونه، ولایتونه، او ۵۰ سلنه د حکومت مالي امکانات په لاس ورشي، بیا به دا هم یوه ننګونه وي چې ډاکټر عبدالله به دغه امتیازات د سولې لپاره قرباني کړي یانه؟

د ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله ترمنځ لا هم بې باوري پر ځای ده، ډاکټر غني چې ژمنه یې کړې وه چې د سولې بهیر مشرې به ډاکټر عبدالله کوي، اوس ویره ورسره پیدا شوې، که ګډ حکومت جوړ، او پر ډاکټر عبدالله فشار راوړي، نو کیدای شي هغه له طالبانو سره جوړجاړي ته ترجیح ورکړي، له همدې امله نوی وړاندیز داسې دی چې د مصالحې د عالي شورا پریکړو کې به ۵۰ سلنه خوښه د ډاکټر غني هم په نظر کې نیول کیږي، او همدارنګه د هیواد د ملي ګټو اړوند موضوعاتو کې.

د ډاکټر غني د حکومت لخوا بېلابېل چینلونه د طالبانو سره اړیکه او یا هم د اړیکو جوړولو هڅه کې دي.

معصوم ستانکزی په شخصي ډول بالواسطه له جګپوړې طالب مشرانو سره اړیکه کې دی، مګر د قطر سیاسي دفتر سره دا مهال په مخامخ اړیکو جوړولو کې پاتې راغلی.

عبدالسلام رحیمي هم په شخصي توګه له ځینو مهمو طالب مشرانو سره اړیکه کې دی، خو د طالبانو له اصلي سیاسي ادرس څخه هر وخت د هغه شتون په مذاکراتو کې رد شوی.

د ملي امنیت شورا چې د بندیانو د خلاصون واکونه لري، هڅې کوي چې له همدې قضیې په استفاده له طالبانو سره مخامخ اړیکې جوړې کړلای شي، خو په شخصي او پټه توګه تر دې مهال اړیکې نه لري، او غواړي چې د طالبانو له اصلي ادرس سیاسي دفتر سره اړیکې ولري.

د ډاکټر عبدالله په مشرۍ هم له یوه او مشخص ادرس څخه له طالبانو سره اړیکې نیول کیږي، او تر ډېره په دې برخه کې فضل احمد معنوي فعال دی.

یونس قانوني، عطاء نور او دوستم په جلا جلا توګه له طالبانو سره په اړیکو کې دي.

د انجنیر حکمتیار، استاد محقق، استاد خلیلي او حنیف اتمر استازي له طالبانو سره لېدني او اړیکي لري، همدارنګه د استاد سیاف او حامد کرزي لخوا هم له طالبانو سره د اړیکو چینلونه شتون لري. او مهمه داده چي حکمتیار او سیاف به کله هم پر یوه لاره مزل ونه شي کولای.

امریکایانو تمه درلودله چي له طالبانو سره له تړون وروسته په ۱۰۰ ورځو کي بین الافغاني مذاکرات نتیجه ورکړي، مګر دادی ۷۳ ورځي تیرې شوې، خو لا هم بین الافغاني خبرې نه دي پیل شوي، دا لویه ستونزه ده.

د بین الافغاني خبرو د پیل لپاره دوه لارې شته، لومړۍ یي ډیره لنډه او اسانه ده. که چیرته په بشپړ ډول ۵۰۰۰ طالب بندیان خلاص شي، نو سمدستي مذاکرات پیل کیږي.

۱ – چي د معصوم ستانکزي په مشرۍ پلاوي کي لږ بدلون راشي، او د افغان جهتونو + افغان حکومت لخوا ګډ پلاوی اعلان شي، نه داچي بیا هم د افغان حکومت پلاوی ونومول شي، کوم چي خلیلزاد یي هم افغان حکومت ته د مشرۍ ژمنه ورکړي.

۲ – که چیرته د بندیانو خلاصون کي ځنډ راځي، بیا نو یو صادق درېیم ګړي ته اړتیا ده، امریکا په دي برخه کي رښتوني نه ده.

د بین الافغاني مذاکراتو د پیل د هڅو لپاره منځګړي باید لاندي صفتونه ولري.

الف: چي هدف یي یوازي د بین الافغاني مذاکراتو پیل وي. او د لوریو لخوا پر نظام توافق وي.

ب: چي افغان حکومت، طالبانو، افغان سیاسي جهتونو ته د منلو وړ وي، د ګاونډیو هیواد او سیمي اندیښني ورته معلومي وي، له نړیوالو سره هم په ژبه پوه شي.

ج: چي د مذهب، سیمي، ژبې او قوم تعصب ونه لري.

که چیرته بین الافغاني مذاکرات پیل شي، داچي افغانان په خپلو خبرو د دریدو مخښه لري، نو زیاته بې باوري به نه وي، بل داچي وار له مخه جهتونه او طالبان له یو بل سره اړیکه کي دي.